مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۳۲** (از ۱۱ الی ۱۸ قوس ۱۳۹٦ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## ځانګړې کنه:

مقدمه ........ ۲

**په هېواد کې د سولې بن‌بست او د حل لاره ........ ۳**

سروې ........ ۴

د سروې ځینې موندنې ........ ۴

ښکېلو لورو ته وړاندیزونه ........ ۵

**د افغان جګړې ښکېلو لورو ته د سولې د فعالینو وړاندیزونه ........ ۷**

ویناوال ........ ۸

## مقدمه

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز د اوونيز تحليل دا ګڼه، د دغه مرکز له‌خوا د سولې د هڅو په دوام، د تېرې اونۍ د کنفرانس راپور، وړاندیزونو او نورو معلوماتو ته ځانګړې شوې ده.

د تحليل په لومړۍ برخه کې د مرکز د دغې هڅې په اړه هغه عمومي معلومات، چې په دغه کنفرانس کې هم د ويناپاڼې په توګه ګډونوالو او د رسنيو استازو ته ووېشل شول، وړاندې شوي دي. په دې ويناپاڼه کې د هغې سروې غټ ټکي راوړل شوي، چې دغه مرکز د سولې په اړه کړې ده. ترڅنګ يې په همدې برخه کې، د سولې بهير د بريا لپاره د مرکز هغه مشخص وړانديزونه هم ځای پر ځای شوي، چې مرکز له خپلو څېړنو او نورو فعاليتونو څخه د پايلې په توګه ترلاسه کړي دي.

په دويمه برخه کې د کنفرانس د ويناوالو او د سولې په برخه کې فعالو شخصيتونو د ويناوو مهم ټکي او ښکېلو لورو ته د سولې بهير د بريا لپاره د هغوی مشخص وړانديزونه په تفصيلي ډول راوړل شوي دي. د دغو ويناوالو هر يو يې د سولې په برخه کې، په ځانګړې توګه د بين‌الافغاني تفاهم اړوند، تجربې لري او يا هم په دې برخه کې فعال دي.

د سولې اړوند دغه سروې او کنفرانس د رسنيو له لوري په پراخه کچه خپور شو؛ خو د ډېری رسنيو په راپورونو کې، د موضوع ځينې مهم اړخونه او مهم ټکي نه وو ځای شوي. له همدې کبله د مرکز د اوونيز تحليل په دې ګڼه کې د کنفرانس د ويناوو مهم ټکي په تفصيلي بڼه خپروو.

# په هېواد کې د سولې بن‌بست او د حل لاره




په افغانستان کې د جګړې د ختمولو لپاره هلې ځلې له تېرو څو کلونو راهیسې روانې دي؛ خو لا هم دا بهیر بریالی شوی نه دی او جګړه له افغانانو قرباني اخلي او د ناامنۍ ترڅنګ یې نورې ټولې برخې تر خپل رانه سیوري لاندې راوستلې دي.

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز (CSRS)، د سولې په برخه کې د یوه فعال ارګان په توګه، له دې وړاندې هم په هېواد کې د سولې بهیر د بریا لپاره ګڼ شمېر ملي او نړیوال کنفرانسونه او سمینارونه جوړ کړي او په خپلو څېړنو، نشراتو او نورو فعالیتونو کې یې هم دې برخې ته زیاته پاملرنه کړې ده.

دا چې په اوسني وخت کې د سولې هڅې یوې بندې دروازې ته دربېدلې دي او له دغه حالت څخه د وتلو جدي اړتیا ده، همدغې اړتیا ته په کتلو سره، د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز لومړی په هېواد کې د سولې په تړاو له نخبه پاړکي نظرپوښتنه وکړه او بیا یې د سولې په هڅو کې د فعالو شخصیتونو یو کنفرانس راوباله، ترڅو پر اوسني وضعیت او شته حل‌لاره بحثونه وکړي.

دغه کنفرانس ته اووه تنه ویناوال وربلل شوي وو، چې یو یې هم د حکومت له لوري د سولې په هڅو کې د فعال ارګان استازی و، مګر هغوی په دې غونډه کې ګډون ونه کړ. شپږ تنه ویناوال چې په کنفرانس کې یې ګډون او ویناوې وکړې، په لاندې ډول وو:

1. د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز رئیس، دکتور عبدالباقي امین
2. د حزب اسلامي افغانستان له‌خوا د حزب اسلامي-افغان حکومت د سولې د خبرو اترو مشر، انجنیر محمد امین کریم
3. د سولې په ډګر کې فعال او سیاسي شخصیت، ملا عبدالسلام ضعیف
4. د ملي یووالي حکومت د هوکړه‌لیک پر تطبیق د څار کمیسیون مشر، استاد محمد ناطقي
5. د سولې په هڅو کې فعال او سیاسي شخصیت، استاد محمد زمان مزمل
6. د افغانستان د سولې او نجات شورا مشر، پوهاند ګل رحمن قاضي

## سروې:

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز په تېرو دریو میاشتو کې (د سنبلې له لومړۍ نېټې د قوس تر پنځمې نېټې) د هېواد په شپږو لویو ښارونو (کابل، هرات، کندهار، ننګرهار، بلخ او کندز ولایتونو) کې د سولې په اړه یوه نظرپوښتنه وکړه. په دې نظرپوښتنه کې د سولې په برخه کې ځینو فعالو ادارو، د سولې په هڅو کې فعالو شخصیتونو، د پوهنتونونو استادانو او نورو اهل نظر او نخبه شخصیتونو څخه د یوې پوښتنپاڼې له لارې، د هغوی نظر پوښتل شوی دی، چې ټول شمېر یې ۱۸۵۵ تنو ته رسېږي. د دغې سروې څو مهمې موندنې په همدې غونډه کې له رسنیو سره شریکې شوې؛ خو بشپړه سروې به وروسته د مرکز له‌خوا خپره شي.

## د سروې ځینې موندنې:

(1) د سروې د موندنو له مخې، ۸۲٫۸۱ سلنه پوښتل شوي کسان په دې نظر وو، چې په هېواد کې روانه جګړه وړونکی (ګټونکی) لوری نه لري او د دغې جګړې پای په سولې سره کېدای شي.

(2) دا چې تر اوسه د سولې هڅې ولې ناکامې دي، د سروې ٦٧٫۴۱ سلنه خلکو یې لامل د سولې لپاره د افغان حکومت د رښتینې ارادې نشتوالی بللی دی.

(3) د سروې ۷۳,۰٦ سلنه پوښتل شوو کسانو ویلي، چې په هېواد کې نیابتي جګړه روانه ده او په اوسني وخت کې افغانان په حقیقي معنا د سولې واک نه لري.

(4) د پوښتل شوو کسانو ٦٥,٥٥ سلنه په دې نظر وو، چې پاکستان نه شي کولی، طالبان د سولې خبرو اترو ته حاضر کړي؛ خو په دې برخه کې مرستندوی رول لوبولی شي.

(5) د سروې له مخې، ۷٦,۳۹ سلنه ګډونوال په دې نظر وو، چې د سولې عالي شورا د سولې په بهیر کې د یوه رېښتیني منځګړي رول نه شي لوبولی.

(6) د دې پوښتنې په ځواب کې چې د سولې خبرې څه ډول پرمخ یوړل شي، ۷۸,۸۸ سلنه پوښتل شوي کسان په دې اند وو، چې د سولې بهیر د بریا لپاره د افغانانو یو دریمګړی او بې‌طرفه لوری اړین دی.

(7) دغه راز تر ټولو ډېرو خلکو یعنې ۹۰,۲٦ سلنه پوښتل شوو کسانو د سولې بهیر د بریا لپاره د بین‌الافغاني تفاهم له طرحې سره همغږي ښودلې ده.

## ښکېلو لورو ته وړاندیزونه:

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز، د سولې په برخه کې د خپلو څېړنو او نورو فعالیتونو په رڼا کې، د سولې د هڅو د بریا لپاره لاندې وړاندیزونه کوي:

(1) جګړه د حل لاره نه ده او تېرو جګړو دا ثابته کړې، چې د هرې جګړې پای په خبرو اترو کېږي. له همدې کبله له ښکېلو خواوو غوښتنه کوو، چې سولې ته په هر ممکن ډول چې کېږي، لاره هواره کړي او د وینې د تویېدو مخنیوی وکړي.

(2) دا چې د افغان جګړې اصلي خواوې افغانان او د روانې جګړې اصلي قربانیان هم افغانان دي؛ له حکومت څخه مو غوښتنه دا ده، چې د جګړې د پای ته رسولو لپاره د افغانانو ترمنځ پر تفاهم تمرکز وشي او د سولې اساسي دروازه پاکستان ونه بلل شي.

(3) که څه هم روانه جګړه «له بهرنیانو سره د جګړې» تر عنوان لاندې روانه ده؛ خو د جګړې اکثریت قربانیان افغانان دي؛ له همدې کبله له طالبانو غوښتنه کوو، چې د دغې جګړې د پای ته رسولو مسؤولیت درک او د جګړې پر ځای د جګړې پر پای ته رسولو فکر وکړي.

(4) مورږ د بین‌الافغاني تفاهم د بریا لپاره د یوه داسې دربیم‌ګړي لوري پر رامنځته کولو ټینګار کوو، چې د جګړې ټولو لوریو ته د منلو وړ وي؛ ترڅو د ښکېلو لورو ترمنځ شته بې‌باوري راکمې او د دوارو خواوو نظرونه سره لنډ کړي.

(5) سوله یوه ملي قضیه ده او ابتکار یې هم باید افغانان په خپل لاس کې واخلي؛ ځکه نو که څه هم په هېواد کې د سولې لپاره د ډېرو جوړښتونو موجودیت ګټور دی؛ خو د همغږي کولو لپاره یې هڅې وشي او د سولې له قضیې سره د یوې پروژې په شان چلند او سیاسي ګټې اخېستلو مخنیوی وشي.

# د افغان جګړې ښکېلو لورو ته د سولې د فعالینو وړاندیزونه




*د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز مشر دکتور عبدالباقي امین*

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له‌خوا «په هېواد کې د سولې بن‌بست او د حل لاره» تر عنوان لاندې کنفرانس کې د سولې په هڅو کې فعالو شخصیتونو ښکېلو لورو ته خپل مشخص وړاندیزونه وړاندې کړل.

په دغه کنفرانس کې، چې تېره شنبه د ۱۳۹٦ د قوس په ۱۱مه د کابل ښار په انټرکانټیننټل هوټل کې جوړ شو، ځینو سیاسي شخصیتونو او حکومتي چارواکو، په کابل کې د ځینو بهرنیو سفارتونو استازو او د سولې په هڅو کې فعالو شخصیتونو، ګډون کړی و.

په کنفرانس کې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له‌خوا د سولې په تړاو د شوې سروې د مهمو موندنو د اعلان ترڅنګ، شپږو تنو ویناوالو په هېواد کې د سولې پر اوسني بن‌بست او شته حل‌لارو بحثونه وکړل.

## دکتور عبدالباقي امین:

د کنفرانس لومړي ویناوال او د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز مشر **دکتور عبدالباقي امین** د غونډې اهمیت ته په اشارې سره وویل: «دا راټولېدونه د افغانستان د ملت لپاره د یوې مهمې او حیاتي قضیې په اړه ده او موږ وغوښتل، هغه لوري چې د سولې په پروسه کې اغېزناک دي او په دې برخه کې ګام اوچت کړي، دلته خپل نظرونه وړاندې کړي.»

ښاغلي امین په سر کې افغانانو ته د رواني جګړې د درنو زیانونو یادونه وکړه او ویې ویل، چې د نړیوالو ادارو د شمېرو له مخې لسګونه زره افغانان په دې جګړه کې وژل شوي دي. نوموړي زیاته کړه: «یوازې له ۲۰۰۷ کال څخه تر ۲۰۱٦ کال پورې د یوناما د راپورونو له مخې ۷۴۰۰۰ ملکیان په دې جګړه کې وژل شوي دي. همدارنګه د ځینو چارواکو د څرګندونو له مخې، هره ورځ د افغان ځواکونو شاوخوا ۱۰۰ تنه د دې جګړې قرباني کېږي، چې د دې دوه چنده هره ورځ ښايي د دولت وسله‌والو مخالفینو ته تلفات اوړي. همدا جګړه ده چې پر نورو ټولو برخو یې سیورۍ غوړولې؛ یو ځواکمن حکومت نه لرو، ۳٫۵ ملیونه افغانان په نشه‌يي توکو اخته دي، د ناامنۍ او بې‌کارۍ له کبله مو ځوانانو له هېواده تېښتې ته مخه کړې ده. له دې څرګندېږي چې د افغانستان ستونزه څومره لویه ده.»

د ده په وینا، د جګړې او مقابل لوري د محوه کولو ستراتېژي، چې له ۲۰۰۱ کال او افغانستان ته د بهرنیو ځواکونو له راتګ وروسته پلې شوې، افغانانو ته یې ستر زیانونه اړولي دي؛ مګر بیا هم د ډېر لوړ شمېر بهرنیو سرتېرو له شتون سره سره دا ستراتېژي ناکامه شوه او دا قناعت حاصل شو، چې د افغانستان قضیه د جګړې له لارې نه حل کېږي او باید سولې او خبرو اترو ته مخه شي.

ښاغلي امین د سولې په تړاو د افغان حکومت او ځینو خپلواکو ارګانونو او لورو هڅو ته په اشارې سره وویل، چې هرې هڅې په خپل وخت کې هیلې هم راټوکولې وې، خو تراوسه د سولې په تړاو ټولې هڅې د بېلابېلو لاملونو له کبله، نه دي بریالۍ شوې. نوموړي په دغو هڅو کې په ۲۰۱۰ کال کې د سولې عالي شورا جوړول او وروسته په ۲۰۱۳ کال کې د طالبانو د قطر دفتر پرانېستل یاد کړل. دغه راز د ده په خبره، د پګواش غونډې چې تر یوه بریده یې د ښکېلو لورو ترمنځ تفاهم ته لاره هواره کړه، خو د یوې عملي حل‌لارې رامنځته کولو لامل نه شوې. د ده په وینا، د ملي وحدت حکومت له راجوړېدو وروسته مخامخ خبرې هم چې په ارومچي او مرې کې وشوې، که څه هم په ارومچي کې طالبانو خپل ګډون تایید نه کړ او په مرې کې یې رد نه کړ، د بېلابېلو لاملونو له کبله

بریالی نه شوي. د ښاغلي امین په خبره، د څلوراړخیزو مذاکراتو شپږ غونډې هم بې‌پایلې وې چې ښایي په دغو خبرو اترو کې د جګړې د یوه لوري (طالبانو) نشتون او یا هم دا چې د پاکستان له لارې له هغوی سره د تفاهم هڅه وه، د دغې لړۍ د ناکامۍ بنسټیز لامل وي.

دکتور عبدالباقي امین د هغو ستونزو یادونه هم وکړه، چې تراوسه یې له کبله دا بهیر بریالی شوی نه دی او تر ټولو مهم یې د بین‌الافغاني تفاهم نشتوالی وباله. نوموړي وویل: «دواړو لورو خپل مقابل لوري د خپلواکۍ او صلاحیت نه لرونکي بلل، طالبانو ویل چې افغان حکومت استقلالیت او صلاحیت نه لري او باید له امریکایانو سره خبرې وشي او بالمقابل حکومت ویل چې پاکستان د قضیې اغېزناک لوری دی او باید لومړی له پاکستان سره ستونزه هواره شي. له همدې کبله دوی ونه توانېدل د دغې قضیې د هواري لپاره، بین‌الافغاني تفاهم رامنځته کړي.»

نوموړي د دولت د وسله‌والو مخالفینو د مشخص ادرس نشتوالي ته په اشارې وویل، چې له لومړي سره دا د یوې جدي ستونزې په توګه مطرح وه؛ خو کله چې په قطر کې د طالبانو دفتر پرانېستل شو، داسې هیلې یې راوټوکولې، چې دا قضیه به د سوله‌ییزو هڅو له لارې حل شي. مګر هغه ستونزې چې په دې برخه کې موجودې وې، بیا هم افغان حکومت ونه توانېد چې له طالبانو سره خبرې اترې پیل کړي.

همدا راز د ده په وینا، د سولې عالي شورا د سولې د یوازېنۍ دروازې په توګه مطرح کېدل بله هغه ستونزه وه، چې د هغو ګامونو مخه یې ونیوله چې په دې برخه کې باید اخېستل شوي وای.

نوموړي په ټولیز ډول د سولې بهیر د بریا لپاره پر بین‌الافغاني تفاهم او د یوه بې‌طرفه منځګړي پر رامنځته کولو ټینګار وکړ.

دکتور عبدالباقي امین د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د هغې سروې ځینې مهمې پایلې هم د خپلو خبرو په پای کې اعلان کړې، چې د دې اوونۍ د تحلیل په لومړي مطلب (کنفرانس: په هېواد کې د سولې بن‌بست او د حل لاره) کې مو ولوستلې.

## انجنیر محمد امین کریم:

د کنفرانس دویم ویناوال او د حزب اسلامي او افغان حکومت په خبرو اترو کې د حزب اسلامي د پلاوي مشر **انجنیر محمد امین کریم** بیا د سولې بهیر د بریا لپاره د حزب اسلامي د سولې د تجربې په تړاو څرګندونې وکړې.

ښاغلي کریم وویل: «زموږ له نظره د دواړو لورو لهخوا د سولې پر وړاندې څو عملي خنډونه شته دي او ترڅو چې دواړه لوري د کلیشهیي شعارونو پر ځای د ټولنې ځینې عیني واقعیتونه، چې تراوسه انکار ترې شوی، ونه مني، د سولې بهیر بریالیتوب شونی نه دی.»




*د حزب اسلامي او افغان حکومت په خبرو اترو کې د حزب اسلامي د پلاوي مشر انجنیر محمد امین کریم*

ښاغلي محمد امین کریم لاندې څو ټکي د هغو واقعیتونو په توګه مطرح کړل، چې د سولې بهیر د بریا لپاره یې منل دواړو لورو ته اړین دي:

**لومړی**؛ واقعیت دا دی، چې په جګړهییز بحث کې د مقابل لوري، چې عمدتا د طالبانو تحریک دی، یو داسې تصور وړاندې کېږي، چې په هېڅ صورت یو عادي انسان له داسې چا سره د سولې غوښتونکی نه دی. د طالبانو ډله زموږ په مطبوعاتو او په هېواد کې د واکمنو سیاسي ځواکونو لهخوا یوه مزدوره، وحشي، ترهګره او غیر افغاني ډله معرفي کېږي او ترڅو چې دا چلند، چې یو جنګي چلند دی او تر یوه بریده د درک وړ هم دی، موجود وي، په هېڅ صورت د سولې دروازه پرانېستل کېدای نه شي. موږ باید دا حقیقت که خوشحاله وو که خفه، ومنو چې طالبان له عقیدتي، ټولنیز او طبقاتي پلوه د افغاني ټولنې یوه نه بېلېدونکې برخه او هغه فکري او تاریخي

واقعیت دی چې انکار نه شي ترې کېدای، نه یوه بهرنۍ، مزدوره، وحشي او پردۍ ډله. د دغه اصل منل خپله مور، هغه لوري ته بیایي چې باید د خپلو خلکو له یوه ټولي سره تفاهم ته ورسېږو.

**دویم**؛ واقعیت دا دی، چې په ۲۰۰۱ کال کې، په افغانستان کې طالبانو د قدرت واګې په لاس کې لرله او د سپټمبر له پېښو سره بهرني ځواکونه افغانستان ته راغلل، د طالبانو رژیم یې ړنګ کړ، قدرت یې هغه چا ته په لاس ورکړ، چې له طالبانو سره په جګړه کې ښکېل وو او له هغوی سره یې ژوره دښمني لرله او تر نن پورې همغوی په واک کې دي. دا هم یو له هغو واقعیتونو دی، چې انکار نه شي ترې کېدای. په تېرو ۱۵ کلونو کې مور د هغو هڅو شاهدان وو، چې د بهرنیو ځواکونو په مرسته خپل داخلي مخالفین او دښمنان محوه او له منځه یوړل شي. له دغه واقعیت سره به څه ډول ممکنه شي چې واکمن لوری، دې ته چمتو شي چې خپل مخالفین او دښمنان په قدرت کې ورشریک شي، د قدرت له انحصاره تېر شي او دې ته چمتو شي چې د سولې په بیه د قدرت یوه برخه د خپل ملت له یوې سترې برخې سره ووېشي!؟ ځکه نو په واک او ځواک کې انحصارګرایي هم د سولې پر وړاندې یو له مهمو خنډونو څخه شمېرل کېږي.

**دریم**؛ واقعیت چې طالبانو ته متوجه دی، دا دی چې په هېواد کې د اسلامي امارت د لرلو ادعا او هغه د یوې ابدي داعیې په توګه ګڼل، په هېڅ صورت په هېواد کې سولې ته لاره نه پرانیزي. طالبان زمور د ټولنیز وضعیت او ملي او سیمه‌ییزو واقعیتونو په پام کې نیولو سره دا ادعا نه شي کولی، چې د دوی تحریک دې تر ابده د بلا منازع قدرت څښتن وي او هر څوک چې دوی ټاکي باید د افغانستان بلا منازع رهبر وي. دا یوه غیر واقعي ادعا ده.

**څلورم**؛ واقعیت هم دا دی، چې د طالبانو د تحریک له لوري د خپل مخالف لوري افراد، له بهرنیو ځواکونو سره د همکارۍ تر نوم لاندې، هغه که د دولت مامور وي یا پوځي وي، مباح الدم بلل او له دیني پلوه د هغوی وژل توجیه کول، د دیني تعالیمو او زمور د ټولنې د عیني واقعیتونو خلاف دي. ترڅو چې تکفیري تصور موجود وي، دا جګړه به په همدې ډول روانه وي.

**پنځم**؛ واقعیت هم چې باید د طالبانو تحریک یې ومني، د تغلب له مسئلې تېرېدل دي. پر تغلب اعتقاد (چې که د مسلمانانو یوې ډلې په زور قدرت ونیوه، د هغوی قدرت له دیني پلوه شرعي دی) یو غیر دیني اعتقاد دی او د اسلام په تاریخ کې یوه عارضي مسئله ده.

ښاغلي امین کریم، دغه راز د حزب اسلامي د سولې تجربې ته په کتلو سره د څو نورو واقعیتونو پر منلو هم ټینګار وکړ:

**لومړی**؛ د ده په خبره موږ دې پایلې ته رسېدلي یو، چې د افغانستان اساسي قانون سره له دې چې ډېرې جدي ستونزې لري، د سیمې د هېوادونو په کچه یو مترقي اساسي قانون دی؛ خو بیا هم د دغه قانون بدلول باید د ټوپک د میلې له لارې ترسره نه شي.

**دویم**؛ واقعیت هم چې باید ومنل شي، د دغې ټولنې هغه بڼه او هغه نظام دی چې په تېرو ۱۷ کلونو کې دلته جوړ شوی دی. دا باید ومنل شي، چې حکومت او دولت یوه انساني مؤسسه ده او بدلون یې هم د ټوپک د میلې پر ځای باید د خلکو د رایو د منلو له لارې وشي.

**دریم**؛ که موږ غواړو سوله وکړو، د افغانستان حکومت به د یوه تریخ حقیقت په توګه منو او په دې توګه به د بین‌الافغاني تفاهم له لارې، چې اداره او برخلیک یې د افغانانو په لاس کې وي، خبرې اترې کوو. سوله له دښمن سره کېږي او هېڅ لوری داسې نه شي ویلی، چې زما دښمن به دا ځانګړنې لري.

**څلورم**؛ واقعیت دا دی، چې له ۲۰۱۴ کال راوروسته د بهرنیو ځواکونو تر ۹۰ یا ۹۵ سلنه زیاته برخه چې په هېواد کې د جګړې اصلي انګېزه ده، له هېواده وتلي دي، چې د حزب اسلامي د خبرو اترو پیل هم له همدې ځایه سرچینه واخېسته. دا بدلون یوازې د کمي نه، بلکې د کیفي پلوه یې هم پراخ بدلونونه له ځان سره لرل، چې موږ ته یې لاره پرانېسته څو د سولې خبرې اترې پیل کړو. ځکه نو له ۲۰۱۴ کال راوروسته د جګړې ۹۹ سلنه قربانیان افغانان دي او تر ۹۰ سلنه زیات قربانیان یې بیا غیرنظامي افغانان دي. که موږ دا ادعا لرو، چې خپل ملت ته کار کوو، نه شو کولی چې بین الافغاني جګړه چې قربانیان یې افغانان دي، بهرنۍ جګړه وبولو.

**پنځم**؛ واقعیت هم چې باید ومنل شي، دا دی چې د بهرنیو ځواکونو وتل باید په خبرو اترو کې د پېش‌شرط په توګه نه، بلکې د هدف په توګه مطرح شي. ترڅو چې د بهرنیو ځواکونو وتل د شرط په توګه مطرح وي، د سولې شونتیا نه لیدل کېږي. نن ډېری هغه هېوادونه چې په افغانستان کې ځواکونه لري، وایي چې که تاسو په خپل منځ کې سوله وکړئ، موږ چمتو یو دا هېواد پرېږدو. همدا راز طالبان خپل اهداف چې استقلال، جهاد او اسلامي حکومت دی، د خبرو اترو اصلي محور وګرځوي، نه د قدرت او وزارتونو او ولایتونو د وېش قضیه.

ښاغلي محمد امين کريم د خپلو خبرو په پای کې وويل، چې د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز له‌خوا د شوې سروې پايلې، د هغې سروې له موندنو سره سر خوري چې دوی د افغانستان په شمال کې د سولې او جګړې په تړاو تېر کال کړې وه.

## ملا عبدالسلام ضعيف:

د غونډې دريم ويناوال او په اسلام‌اباد کې د طالبانو د رژيم سفير **ملا عبدالسلام ضعيف** په خپلو خبرو کې د سولې بهير د بريا پر لارو چارو خبرې وکړې. د ښاغلي ضعيف په وينا، که څه هم د افغانستان د ستونزې د هوارې لپاره بېلابېلو شخصيتونو او لورو کار کړی، خو لا هم عملا د داسې څه شاهدان نه يو چې په پايله کې يې په هېواد کې ارامي راغلې وای.



*اسلام‌اباد کې د طالبانو د رژيم سفير ملا عبدالسلام ضعيف*

د نوموړي په اند څو نکتې چې سولې د خبرو اترو د پيل لپاره اړينې دي، په لاندې ډول دي:

**لومړی**؛ يوه ستره ستونزه دا ستراتېژي ده، چې د ستونزې يو لوری هڅه کوي، بل لوری مغلوب کړي. د سولې لپاره هم دې ته ترجيح ورکول کېږي، چې له يوه قوي دريځه خبرې وشي. د قوي دريځ معنا دا ده، چې يو لوری به ځپل کېږي او بيا به په محکوم او محروم شکل د سولې خبرو اترو ته راځي. دا محکوميت او محروميت په دې معنا دی، چې دلته د عدالت پر ځای د زور خبره مطرح ده. نو ځکه تر ټولو مهمه خبره دا ده چې دا د زور او

وینې تویېدلو ناکامه ستراتېژي په داسې یوه ستراتېژي بدله شي، چې په حقیقت ولاړه او د خبرو اترو ستراتېژي وي. دا ټکی تر ډېره طالبانو ته متوجه نه دی، ځکه طالبان له ۲۰۰۱ کال راهیسې محکوم لوری دی او تر اوسه په محکومیت کې ژوند کوي. د هغوی کور وران شوی، له خپل کوره شړل شوي دي او په دې تحمیلي جګړه کې طالبان داسې یوه حالت ته ورل شوي، چې وتل یې د هغوی په واک کې نه دي؛ ځکه نو هغه لوری چې ځان حاکم بولي او ځان د خلکو استازی بولي او ځواک ورسره دی، هغوی باید لومړی ابتکار وکړي.

په اوسنۍ جګړه کې یو حقیقت دا دی، چې جګړه د داسې مافیایي کړیو په لاس کې ده، چې د جګړې په دوام کې خپلې ګټې لري او هڅه کوي چې دا جګړه همداسې دوام ولري. خو پوځي ستراتېژۍ چې د لسګونه زره بهرنیو پوځیانو په شتون کې ناکامه شوه او اوس بیا نوې شوه، تېرې یوې نیمې لسیزې ثابته کړه، چې دا ستراتېژي ناکامه وه او به بیا هم ناکامه وي. سره له دې چې اوس وضعیت هم د پخوا په پرتله خراب شوی او د افغان حکومت حاکمیت کم شوی دی. له همدې کبله د زور له لارې طالبان سولې ته اړ ایستل یوه ناکامه او غلطه هڅه ده او د تېرو ناکامو تجربو تکرار دی. نو جنګي ستراتېژي د سولې ستراتېژۍ ته اړول به یو ښه پیل شي.

د ښاغلي ضعیف په وینا، په اوسني وخت کې د سولې د خبرو اترو د بریالیتوب لپاره څو ګامونو ته، چې له مخکېنیو شرطونو پرته اوچت شي، کلکه اړتیا ده:

**دویم**؛ که غواړو د سولې خبرو اترو ته لاره هواره شي، باور جوړولو ته کلکه اړتیا ده. لومړی ګام به دا وي، چې د افغانانو یو داسې منځګړی ګروپ وګومارل شي چې دواړو لورو ته د منلو وړ وي او باور پرې وکړي او یوازې د افغانستان د خیر لپاره کار وکړي، ترڅو د دواړو لورو نظرونه سره رالنډ کړي او بې‌باورۍ ته یوه بریده له منځه ولاړې شي.

**دریم**؛ یوه ستونزه چې د دواړو لورو لهخوا شته ده، د یو بل په رسمیت نه پېژندل دي. طالبان د افغانستان حکومت د یوه حکومت په توګه په رسمیت نه پېژني. ځکه که هغوی دا حکومت په رسمیت پېژني، نو بیا خو جګړه باید ورسره ونه کړي، بلکې دوی فکر کوي چې دا د افغانانو استازی حکومت نه دی او دا د نورو په لاس کې دی او د هغوی په نظامي مرستو چلېږي. بالعکس افغان حکومت هم دا دریځ لري، چې طالبان هم د نورو په لاس کې دي. اوس هڅه دا کېږي، چې حکومت له طالبانو سره په داسې ډول خبره وکړي، چې طالبان یو

گروپ دی او حکومت یو قانوني حکومت دی او په دې دریځ خبرې کول طالبانو ته سخته ده. ښه به دا وه، چې دا د رسمیاتو موضوع له نظره غورځېدلې وای او د بین‌الافغاني تفاهم له لارې باور جوړونه شوې‌وای.

**څلورم**؛ د یوه دریمګړي ګروپ له رامنځته کولو وروسته د طالبانو لپاره د یوه داسې ادرس په رامنځته کولو فکر وشي، چې د هغوی عزت پکې خوندي وي او د محکومیت او محرومیت احساس ونه کړي او هغه ادرس مسؤولیت او صلاحیت هم ولري او دا ادرس د حکومت له‌خوا په رسمیت وپېژندل شي.

ځینې داسې افواهات هم شته، چې طالبان په قطر کې دفتر لري. دا ناسمه خبره ده، طالبان دفتر نه لري. په ۲۰۱۳ کال کې د طالبانو دفتر د یوه ساعت لپاره پرانېستل شوی او بېرته تړل شوی دی او طالبان اوس هم داسې یو ادرس چې له لارې یې سیاسي خبرې وشي، نه لري.

**پنځم**؛ سوله یوه اړتیا او یو حقیقت دی. که سوله په رښتیا غوښتل کېږي، نو د سولې نوم دې یوازې تر شعار او یوې پروسې پورې نه محدودېږي. معنا دا چې د سولې لپاره یو قانع کوونکی مېکانېزم موجود وي او پایله ولرلی شي. دا چې له دې او هغه لوري مو غوښتنه وکړه او له دې او هغه لوري‌سره مو وکتل، دا ټول د وخت ضایع کول دي. نو ځکه که سوله د یوې پروژې له شکله د یوې پروسې شکل ته واړول شي، ښایي پایله به ولري.

**شپږم**؛ مساویانه عدالت. یو څوک باید په دې مغروره نه شي، چې له ما سره ځواک دی او پر مقابل لوري مې د دغه ځواک له لارې خپل فکر منم. ډېر داسې مثالونه شته دي، چې د بې‌عدالتیو له کبله ډېرو خلکو تحمیلي جګړې ته مخه کړې ده.

**اووم**؛ یو بل تریخ حقیقت چې اوس توجیه کېږي، د بهرنیو ځواکونو حضور دی. حقیقت دا دی چې بهرنیو ځواکونو په ۲۰۰۱ کال کې په افغانستان برید وکړ او تراوسه دلته حضور لري. تراوسه هوا د دوی په واک کې ده، قومانده د دوی په واک کې ده، وسله د دوی ده، پیسې د دوی او ستراتېژي هم د دوی ده. همدا اوس چې د ټرامپ جګړه‌ییزه ستراتېژي جوړه شوه، جګړه په هېواد کې ګرمه شوه، دا د چا انتخاب دی؟ ما ته د یوه افغان په توګه توپیر نه لري، چې دلته ۱۰۰۰ تنه بهرنیان دي او که دلته ۱۰۰۰۰۰ بهرنیان دي، چې زما خپلواکي او حاکمیت یې غصب کړې وي، دلته وینې تویوي، دلته زندان لري، دلته د خلکو په کورنو چاپه وهي، دا که سل دي که زر دي او یو لک دي، هېڅ توپیر نه لري.

ترڅو چې دا حقیقت د یوه حقیقت په توګه ونه پېژندل شي، سوله ممکنه نه ده. نو ځکه هغه لوری چې پر بهرنیو ځواکونو اغېز لرلی شي، له هغوی سره خبرې وکړي، چې دوی باید خپل مهالوېش معلوم کړي، چې دوی څه

غواړي او تر څه وخته دلته پاتې کېږي. په هغو غوښتنو چې د دوی قانوني حق دی، خبرې وشي؛ خو دا چې په زور دلته پاتې کېدل غواړي، زه فکر کوم، له طالبانو سره خبرې به پایله ونه لري. څکه دا یو اساسي عامل دی، که نن د طالبانو مشر مولوي هبت الله اخندزاده کابل ته راشي او تسلیم شي، هم دا ستونزه نه حل کېږي، که طالبان نه وي، بل څوک به جګړه کوي او دا وینې تویېدل به دوام پیدا کوي.

د ملت لپاره هم پکار ده، چې د سولې نوم عام کړي او له ټولنې دا غږونه په پراخ ډول راپورته شي، چې موږ سوله غواړو. په اوسني وخت کې درې واړه لوري (حکومت او متحدین یې، طالبان، ملت) کولی شي، د جګړې په درولو او سولې ته په لارې پرانېستلو کې رول ولوبوي.

نوموړي د خپلو خبرو په پای کې وویل، چې اوس یوه ستونزه دا هم ډېره مهمه ده، چې ټول لوري د اوسنۍ ستونزې د حل کولو لپاره په خپلو خلکو باور نه کوي. طالبان هم باید په خپلو خلکو باور وکړي، حکومت هم باید په خپلو خلکو باور وکړي او ملت هم په خپلو خلکو باور وکړي.

## محمد ناطقي:

د غونډې څلورم ویناوال او د ملي یووالي حکومت د سیاسي هوکړه‌لیک پر تطبیق د څار کمیسیون مشر **محمد ناطقي** هم له اوسني وضعیت څخه د وتلو پر لارو خبرې وکړې.

ښاغلي ناطقي، چې په ۲۰۱۵ کال کې له طالبانو سره د لومړنیو مخامخ خبرو اترو د پلاوي غړی و، د سولې په اوسني بن‌بست کې حکومت او طالبان دواړه پړه وبلل او د دواړو لورو د ملامتۍ په اړه یې خپل دلیلونه وړاندې کړل.




*د ملي یووالي حکومت د سیاسي هوکړه‌لیک پر تطبیق د څار کمیسیون مشر محمد ناطقي*

نوموړي طالبان ځکه د اوسني بن‌بست له کبله پړه وبلل، چې د ده په خبره، افغان حکومت نه له حزب اسلامي او نه هم طالبانوسر ه د خبرو اترو لپاره کوم شرط اېښی؛ خو طالبان بیا د خبرو اترو لپاره له بده مرغه ډېر شرطونه ږدي او په خبرو اترو کې د طالبانو له لوري همدا سختي او شرطونه د دې لامل شوي، چې موخې ته ونه رسېږو او فرصتونه مو له لاسه ووځي.

د ده په وینا، د ۲۰۱۵ کال د جولای په ۷مه مو د اسلام‌اباد په مري کې د څلورو ساعتونو لپاره د افغانستان د قضیې په تاریخ کې مخامخ د طالبانو له استازو سره وکتل او په خبره یې، هلته په لاندې څلورو مهمو ټکو بحث وشو، چې د اوسني بن‌بست لاملونه ښه ترې روښانه کېدای شي:

**لومړی:** د طالبانو لومړی خبره دا وه، چې بهرني ځواکونه باید له افغانستانه ووځي. دا هغه وخت و، چې د بهرنیو ځواکونو ستره برخه له هېواده وتلې وه. موږ هغوی ته وویل، چې له ۱۳۰ زره بهرنیو سرتېرو څخه شاوخوا ۸ زره یې پاتې دي، یو ستر بدلون راغلی او که موږ هوکړې ته ورسېږو، دا به هم ووځي.

**دویم:** د طالب استازو دویمه خبره هم د اساسي قانون د بدلون وه. که څه هم جزئیات یې ونه ویل؛ خو موږ ورته وویل چې اساسي قانون څه اسماني وحیې نه ده او بدلېدای شي، مگر د هغو مېکانیزمونو په چوکاټ کې چې د دغه کار لپاره تعریف شوي دي، نه د ټوپک د میلې په زور. د ټوپک په زور اساسي قانون نه بدلېږي، بلکې نظام نړېږي.

**دریم:** بله خبره یې هم د بندیانو وه، چې هماغه مهال په ولسمشر کرزي ډېرې نیوکې هم کېدې، چې له بگرامه یې ۶۰۰۰ بندیان خوشي کړي دي. ما هم د طالبانو د مذاکره کوونکي پلاوي مشر ته وویل، چې دا دی له بگرام زندانه ډېر بندیان خوشي شوي، نور به هم خوشي شي.

**څلورم:** د طالبانو د استازو څلورمه خبره د تور لېست وه او په دې اړه مو هم ورته وویل، چې دا مسئله هم په جریان کې او حل کېدونکې ده. د بندیانو او تور لېست خبرې، هغه موضوعات وو چې له حزب اسلامي سره په خبرو اترو کې هم مطرح وو او دا هغه موضوعات دي، چې د مېز په سر له بحث سره حل کېږي او د حزب اسلامي تجربه په دې برخه کې ډېره ملموسه ده.

په بل اړخ کې نوموړي ټینگار وکړ، چې د افغانستان قضیه نظامي حل لاره نه لري، یوه حل لاره لري، چې هغه د سولې او خبرو اترو لاره ده. د ده په خبره، پر نظامي تگلاره ټینگار د افغانستان له خلکو سره خیانت دی. په همدې حل لاره کې باید انعطاف وشي او تر ټولو ډېر د افغانستان حکومت مسؤول دی، چې باید واقعیتونه ومني او د طالبانو له اصلي لوري سره رغنده خبرو اترو ته لاره پرانیزي.

نوموړي د سولې په عالي شورا هم نیوکه وکړه ویې ویل: «دا شورا تر اوسه هم کومې پاموړ لاسته‌راوړنې نه لري او زه گومان نه کوم، چې طالبان دې له دوی سره خبرې اترې وکړي. طالبان که خبرې هم کوي، د حزب اسلامي په څېر به مخامخ له حکومت سره خبرې کوي.»

**محمد زمان مزمل:**

د کنفرانس پنځم ویناوال او د سولې په هڅو کې فعال سیاسي شخصیت **محمد زمان مزمل** د سولې پر وړاندې شته خنډونو او ننګونو په اړه وینا وکړه.

ښاغلي مزمل وویل، دا اوس چې په کندهار کې د حکومت لوړپوړي چارواکي د حکومت پر ضد غونډه کوي او په دې وضعیت خوشحاله نه دي، نور افغانان به څنګه له دغه وضعیته خوښ وي. د ده په خبره، د ملتونو مسائل یا یو بریالی رهبر یو طرفه کوي او یا هم یو ژوندی ملت؛ خو دلته ۱۷ کاله ناخوالې تېرې شوې، مګر لا هم ملت له جګړې کړېږي.




*د سولې په هڅو کې فعال سیاسي شخصیت محمد زمان مزمل*

ښاغلي مزمل وویل، که څه هم د سولې لپاره کار شوی؛ خو د سولې پر وړاندې ډېر خنډونه شته دي، چې مهم یې په لاندې ډول دي:

**لومړی**؛ مداخله او اشغال. په اوسني وخت کې د سولې ستر خنډ خپله بهرنیان او د دوی مداخلې دي، چې په افغانستان کې سوله نه غواړي.

**دویم**؛ یو حزبه حکومت. په تېرو حکومتونو او د جهاد پر مهال هم همدا ستونزه وه او اوس هم شته ده. د بېلګې په توګه، اکثریت مهم وزیران یوې درې ته ورکول او د عدالت له پامه غورځول، خپله جګړه زیږوي. جنګ طبیعي څیز دی او خلک خپله راپورته کېږي.

## گل رحمن قاضي:

د کنفرانس شپږم ویناوال او د سولې او نجات شورا مشر **پوهاند گل رحمن قاضي** د سولې اړوند فرصتونو باندې خبرې وکړې.

د نوموړي په وینا، دا حقیقت باید درک شي، چې دواړه لوري افغانان مري. په دغو خلکو زړه سوی پکار دی. هغوی چې جگړې ته لمن وهي، په جگړه کې خپلې گټې لټوي، یا په جگړه کې خپل حاکمیت ساتي، «دوی خو دې خپل زامن د جگړې ډگر ته ولېږي!».




*د سولې او نجات شورا مشر پوهاند گل رحمن قاضي*

نوموړي په ټینگار سره وویل، چې حکومت د سولې لپاره قطعا تگلاره نه لري او سوله هم نه غواړي. وسله‌وال مخالفین هم د سولې لپاره تگلاره نه لري؛ خو توپیر یې دا دی، چې د سولې لپاره سیاسي اراده لري. ځکه هغوی په ډېرو ناخوالو کې واقع دي او حکومت بیا د هغوی په پرتله په ډېر غوره وضعیت کې دی. په دې منځ کې یوازې ملت په حقیقي معنا سوله غواړي.

ښاغلي قاضي زیاته کړه، د ټولنې د نخبه پاړکي وجیبه ده، چې راپاڅي او سولې ته کار وکړي. د زور او بهرنیو پروژو تجربه ناکامه ده، بهرنیان دغه ملت ته سوله نه راولي. که سوله د بهرنیانو په گټه وای، ډېر مخکې به دلته سوله راغلې وه.

د ده په وینا، په اوسني وخت کې د سولې لپاره زیات فرصتونه شته دي؛ خو داسې یو وخت به هم راورسېږي، چې د یوې غونډې جوړولو فرصت به هم نه وي.

ښاغلي گل رحمن قاضي وویل: «یو نیم کال مخکې موږ طالبانو ته قطر ته ورغلو او په ډېرو ځیزونو موافقې ته ورسېدو. د یوه نیم کال له تېرېدو سره، د ملي وحدت حکومت لکه څرنگه چې د سولې د هر بل خوځښت پر مخ یې دروازه بنده ده، زموږ پر مخ یې هم دروازه بنده شوه. د ده په خبره، ترڅو چې سوله افغاني نه شي او یو افغاني منځگړی، چې هېڅ امتیاز ونه غواړي، رامنځته نه شي، دا قضیه نه حل کېږي.»

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.